**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د نړیوالو توطیو افشا کول شرعي فریضه ده**

**(ژباړه)**

له نړیوالو توطیو سره جوړجاړی باید د واقعي سیاسي رهبرۍ تشویش وي. هغې رهبرۍ چې د امت امور په لاس کې لري. هغه سیاسي حرکتونه چې د دښمنو دولتونو د توطیو افشا کولو ته پام نه کوي، ارزښت نه لري. دغه راز هغه دولتونه چې دا مسله اړینه نه بولي، ښه راتلونکې به ونه لري.

د اسلام مبین دین په دغې برخه کې سیاسي فعالیتونه فرض ګرځولي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**(وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وإِلى أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنْبِطُونَهُ مِنْهُمْ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَانَ إِلَّا قَلِيلاً)**

[نساء: ۸۳]

***ژباړه:*** *کله چې د وېرې یا امنیت خبر ور ورسېږي، له ځېړنې پرته یې ګنګوسه کرځوي. په داسې حال کې که هغه پیغمبر یا پیشوایانو ته ـ چې د تشخیص پوره توان لري ـ ور ولېږل شي، د مسایلو له ریښو به خبر شئ. خو که فضل او رحمت پر تاسو نه وای، له کم شمېر پرته به ټولو د شیطان پیروي کوله او ګمراه به وئ.*

د وېرې موضوع په دښمن حملې کولو پورې ځانګړې شوې او پر هغوی بریا لازموي. هغه څه چې استنباط، تفکر، تحلیل او تجزیې او ځانګړو توانایانو ته اړتیا لري. هغه توانایانې چې د دولت او امت د خدمت لپاره کارېږي. طبري رحمت الله د (لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنْبِطُونَهُ) جملې په تفسیر کې وایي: «ځینې کسان د خبرونو ریښې را باسي او ځېړنه پرې کوي.» نوموړی دوی په دین او عقل کې د فقاهت او درایت خاوندان بولي.

اسلام هغه زاویه مشخصه کړې، چې انسان نړۍ ته ترې وګوري. لکه څنګه یې چې د اصلي دښمنانو د پېژندلو، له هغوی سره د مقابلې لپاره سیاسي فعالیتونه مشخص کړي همداراز یې پرې بریا هم مشخصه کړې. هغه زاویه اسلامي عقیده، ایډیولوژي او د اسلام پراختیا ده. اسلام نورې ټولې لکه قومي او وطني زاویې حرامې بللي او دا زاویې له سیاسي انحطاط پرته بل څه نه لري. په پایله کې لویو استعماري قدرتونو ته د خپل ځان په تسلیمی تمامیږي. پر هغه حالت چې اوسمهال پر اسلامي خاورو حاکم دولتونه ورسره مخ دي.

د اسلام ایډیولوژیک لید، یو نړیوال لید دی او د اسلام له فکري او سیاسي ثابتې قاعدې څخه اخیستل شوی. د نړیوالو توطیو تعقیبول او افشا کول، د هغه چا لپاره چې دا عقیده لري او نړیوالو ته د اسلامي دعوت رسولو هیله لري، یو حتمي او ضروري کار دی. ځکه هر هغه عمل چې د ترسره کولو لپاره یې د کوم واجب کول اړین وي، پخپله عمل هم واجب دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلام د سیاسي فعالیتونو په ځانګړې توګه، د نړیوالو دسیسو او توطیو افشا کول او له منځه وړلو بېلګې راته ښودلې دي. د بېلګې په توګه: کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د قریشو او خیبر یهودو له ترون او پر مدینه او د اسلام د له منځه وړلو له حملې خبر شو. ژر یې سیاسي عاجلې پرېکړې ترتیب کړې. لومړی یې د پوځي استخباراتو او د شپې مامورینو په ګومارلو سره د دغه خبر له صحت څخه ځان ډاډه کړ او وروسته یې د قریشو د توطیې د له منځه وړلو لپاره سمه سیاسي نقشه جوړه کړه. له قریشو سره د سولې او موقتو مذاکراتو له کبله د کبار(سترو) صحابه وو له نار اضیتوب سره سره یې سیاسي موخه هم په پام کې ونیوله او خطرناک شرطونه یې هم ومنل. په پایله کې د حدیبیې مشهوره سوله وشوه. هغه سوله چې ښکاره فتح او بریا وه. د پام وړ موخې پرې تر لاسه شوې او د قریشو او خیبر یهودو د ترون د ماتېدو لامل شوه. د دوی شراکت یې له منځه یووړ او دوه لوی

قدرتونه يې له يوبله بېل کړل. دغه سياست د خيبر يهودو او قريشو د ګيلم ټولېدو زمينه برابره کړه او بلاخره د قريشو د کمزورۍ او ګوښه کېدو لامل شوه.

لوی دولتونه په دې ورځو کې هم ـلکه نور وختونه ـ د خپلو دښمنانو د کمزوري کولو، د خپلو ګټو ساتلو او د خپل نفوذ د پراختيا لپاره له توطيو نه لاس پر سر کېږي. خپل پلانونه د خپلو هم ټرونانو، وکيلانو او مزدورانو پر مټ عملي کوي. د مثال په توګه: له سوريې څخه د امريکايي ځواکونو ناڅاپي وتل، سياي توطيه ده، چې د څو سياسي موخو د تر لاسه کولو لپاره وشوه:

۱ـ د بشار اسد د نظام د ستنو کلکول او وروسته ورته د فرات د ختيځ ګازو او تيلو سيمو سپارل، چې د بشار اسد دولت په پښو درېدو لپاره لازمه بوديجه پيداکړي او وکولای شي، حداقل خپلې اړينې اړتياوې پرې پوره کړي. د فرات د شرق پر بډايه سيمو د امريکا تسلط او له هغه ځايه د مخالفينو شړل، د نظام لپاره يو چانس دی، څو ځان قوي کړي او وروسته دغه سيمې له امريکا بېرته واخلي.

۲ـ د ترکيې په کنټرول کې يې د سوريې شمالي سيمې راوستې، څو دا مزدور دولت وکولای شي، د مخالفينو په کنټرول کې خپل رول ولوبوي. پر نظامي ځواکونو يې له حملو راوګرځوي او په هغه لوی زندان کې يې وساتي چې د ترکيې تر کنټرول لاندې دی. د ايران، ترکيې او روسيې توافق ته يې ملزم وګڼي. دغه راز د دغو توافقاتو د موضوع له نه منلو يې وېرولو ته دوام ورکړي.

۳ـ د سياسي تکتيک په توګه به امريکا د خپل ليد او د وخت د اړتيا پر اساس د خپلو مزدورانو د غولولو او په سوريه کې په نړيوالو او سيمه ييزو لوبو کې د برلاسی لپاره له داعش ډلې او کردوانو څخه کار واخلي.

۴ـ د هغو نقشو کمزوري کول، چې له سوريې څخه د امريکايي ځواکونو تر وتلو وروسته به يې فرانسه او انګليس ولوبوي.

۵ـ د سوريې له هغو مخالفينو او د هغوی له تر ټولو لويې پوځي پايګاه څخه چې ځان يې د ترکيې په غېږ کې اچولی، به ګټه واخلي، او په راتلونکو مذاکراتو کې به له سوريې څخه د روسي ځواکونو وتل وغواړي.

۶ـ د بشار اسد له نظام سره د ايران او ايراني ملېشو د مرستو دوام او په مقابل کې يې په سوريه کې د يهودو د رژيم رول به حداقل ته راټيټ کړي.

دا په سوريه کې د امريکا له مهمو موخو څخه دي. چې د ټرامپ د ناڅاپي پرېکړې، له سوريې څخه د امريکايي ځواکونو د وتلو په وسيله غواړي په راتلونکو مياشتو کې يې تر لاسه کړي. که روسيه، ترکيه، ايران، او سعودي له امريکا سره مرسته ونه کړي، نو هېڅکله به دغو موخو ته ونه رسېږي. ځکه له پولې بهر د امريکا قدرت، د هغوی د هم ټرونانو او مزدورانو په ولکه کې دی.

دغو دولتونو د شام انقلاب پر وړاندې توطيه وکړه او ډېری رهبران يې وپېرل. دغو رهبرانو ازادې شوې سيمې په دوو برخو کې نظام ته تسليم کړې. که د هغو ډلو د رهبرانو همکاري، چې انقلاب يې ډېر ارزانه وپلوره نه وای، د دوی ملاتړو ايران او روس نه شوای کولای، چې په ازادو سيمو کې د جنايت کار بشار نفوذ پراخ کړي. له نظام څخه د ملاتړ په سر کې روس، ايران او ايراني ملېشې نه دي. بلکې هغه رهبران وو، چې ځانونه يې د سعودي، ترکيې، اردن او نورو د لاس وسيلې وګرځولې.

څوک چې بدلون غواړي، نو پرې لازمه ده، چې د اسلام ستره پروژه کاملاً واضح او روښانه انتخاب او لاس په کار شي. په داسې بڼه چې د شام انقلابيون اړ دي، له ترکيې، سعودي او ګاونډيو هېوادونو سره اړيکې پرې کړي. هغو دولتونو سره چې تل د جنايتکار بشار تر څنګ ولاړ دي او د انقلاب پر وړاندې يې هېڅکله له توطئې لاس نه دی اخيستی. انقلابيون او هغوی چې تغير غواړي،

باید هېڅکله د تغیر له واقعي اصولو یوه زره هم راتېیټ نه شي. د انقلابیونو تر ټولو اړین اصول له ریښنو او ټولو اساساتو او موسساتو سره د نظام چپه کول او بیا یې پر کنډوالو د اسلامي نظام تاسیسول دي.

**له الرایه جریدې څخه**
**لیکوال: ابوحمزه الخطواني**
**۱۴۴۰ هق د جمادی الاول ۳۰مه**
**۲۰۱۹م د فبروري ۶مه**
**ژباړن: حبیب الله**